مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد.

پوهندوی آصف بهاند ۲۰۱۸/۰۹/۱۱

# د بېکسیار د ډک زړه څپې

# او

# «لکه خوب هسې وختونه»

# (د عبدالمالک بېکسیار د ژوند او شاعرۍ لنډ جاج)

## دویمه برخه




د بیکسیار پر کلام او افکارو باندې تر دې کرښو وړاندې نورو د نظر خاوند فرهنګیانو هم خپل نظرونه لیکلي دي، زما له نظره د لاندې ښاغلو او آغلو لیکني تیرې شوې دي:

**ـ نورالبشر نوید،**
(«د بیکسیار سوچونه او کړلیچونه»، د سوچونه او کرلیچونه شعري ټولګه مقدمه، الف مخ)

**ـ سید صابرشاه صابر،**
(«د ډنمارک پښتون شهزاده»، د سنځل ګل په شپو کې شعري ټولګه، د پښتي دویم مخ)

**ـ اسماعیل یون**
(«بېکسیار د بې هویتۍ په دریاب کې، د هویت ډیوه»، د سنځل ګل په شپو کې شعري ټولګه، د مقدمي لومړی مخ،)


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزې بڼي پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیرلو مخکي په ځیر و لولئ

**ـ صفیه صدیقي**
(«د سنځل ګل په شپو کې، یو ښکلی نوم ـ ځو ښکلي شعرونه»، د سنځل ګل په شپو کې شعري ټولګه، د مقدمې اتم مخ)

**ـ ممتاز ارمان،**
(د بیکسیار لنډه پېژندنه، د سنځل ګل په شپو کې، څلورمه پېنتي)

**ـ اجمل اند،**
(«باد د شینشوبو بوټی لړی، لړي»، (هیله مجله، پرلپسي اتلسمه ګڼه، دریم کال، ۴۶۲ مخ)
د سویډن په مالمو ښار کې د بیکسیار او نجیبه سارا بیاباني د لمانځغونډې په ترڅ کې، اجمل اند د بیکسیار پر شاعرۍ مفصلې خبرې وکړې.

**ـ انجنیر ګلمانشاه ودیر صافی،**
د سویډن په مالمو ښار کې د بیکسیار او نجیبه سارا بیاباني د لمانځغونډې په ترڅ کې ښاغلي ودیر صافي د بیکسیار مفصل ژوند لیک وړاندې کړ.

او ...

دلته به په لنډ ، لنډ ډول د ځینو پاسنیو یادو لیکوالو د نظرونو ځیني لنډې برخې، د بیکسیار د شخصیت او تخلیق د لا پېژندني له پاره را واخلم:

ښاغلی نورالبشر نوید د بیکسیار په باب داسي وايي:«

یوه سندره د خیلو ګلدرو!

یو طوطي د مستو ګلبنو!

یوسور ګل د سور سپرلي!

یو خرپ د ابدالي د توري!

یو ول د میرویس د پټکي!

یو حرمت د ملالی د تیږي!

یو سلګی د میوند د سنګر!

یو چنار د چونغر د سر!

یو غورځنګ د آمو د چپي!

یو بچی د خوشال د کوڅې!

یو ملنګ د رحمان د دوهې!

یو قاتل د جانان د ارمان!

یو مقتول یو بې وسه انسان!

یو شاعر د افغانستان د خاورې! ... عبدالمالک بیکسیار!

هغه چي د خپلو سوچونو په دریاب کې لاهو شو، نو د وختونو کړلیچونو راونیو. د افغنستان وزر مات شهباز د بابا باګرام ته راغی، دلته ورته د مهاجر خطاب ورکړ شو، ګڼي د ده نوم عبدالمالک بیکسیار...
پښتون شاعر عبدالمالک بیکسیار د خپل وطن د پسرلي پر ګلاب، په پېښور کي خاورې واړولې...»


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزي بڼي پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکي په څېر و لولئ

(بیکسیار عبدالمالک، سوچونه او کړلیچونه، شعري ټولګه، خپرندوی: کابل پوهنتون، ۱۹۹۷ م کال، د مقدمي الف ــ ب مخونه)

دغه راز ښاغلی سید صابرشاه صابر، له خپل فرهنګ او ژبې سره د بیکسیار د ژوري فرهنګي مینې په باب داسي لیکلي دي:

«په غیر دیار کي چي قدرمن بیکسیار د پښتو ژبې د ترقۍ، ودې او پښتون ثقافت، ادب د راټولولو او ځنه ځوړنګې کولو لپاره ځومره کړاوونه او کوششونه ګالي او پالي؛ په عام عادي او روایتي ټکو کي د هغې منّنه او ستاینه، هېڅ کېدای نه شي. دې ساده لیوني افغان په ډنمارک غوندې وطن کي چي پښتو او پښتون په کي په اوړو کي د مالګې نه هم کم دی، د دغه قام او ژبې جنډه په دې «هیله» او «تلوسه» پورته کړې ده چي که کېدای شي دا تیت پرک، ورک ـ ورک، ټوټې ـ ټوټې ولس او بې ځوکه بکره او د شاړو غاړو ژبه راټوله، شته، مړه او د نړۍ په قومونو او ژبو ور وپېژندلي شي. دا یوه داسي لیونۍ درنه د قدر وړ او عظیمه جذبه ده چي زه یې احترام کوم او ورته د زړه او احساس سترګي ټیټوم...»

(بیکسیار عبدالمالک، د سنځل ګل په شپو کي، شعري ټولګه، ۱۹۹۹ م کال، د پشتي دویم مخ)

په دوی پسي ښاغلي اسماعیل یون «د سنځل ګل په شپو کي» د شعري ټولګي له پاره یوه اوږده مقدمه لیکلي ده او د بیکسیار د ژوند پر ځینو اړخونو یې رڼا اچولي ده. د یادې مقدمي په یوه برخه کي راغلي دي:

«... شپیتم کلونه د هېواد په دننه کي د شعار او شعر ښه ګرم پړاو و. همدغه لسیزه د بیکسیار د شاعری د ټوکېدو کلونه دي، خو ده په دې کلونو کي هیڅکله هم خپله سپېڅلي شاعري د سیاسي شعار ګردونو او بادونو ته پرې نه ښوده. له همدې کبله خو دی په دې کلونو کي د هېواد په دننه کي د یوه شهرت ګټلي شاعر په توګه مطرح نه شو؛ یوازې هغه شاعران او لیکوالان چي له ده سره یې فرهنګي اړیکي درلودل، د ده د شاعرۍ پر ارزښت پوهېدل. همدا یاده لسیزه لا پای ته رسیدلي نه وه چي شاعر بیکسیار له خپلو شعرونو سره د خپل ټاټوبي په پرېښودلو محکوم شو؛ پېښور ته راغی، یو کال نیم یې لا تېر کړی نه و چي دلته یې هم د «شعاریت» بازار ولید او د ذهني ستړیا احساس یې وکړ. پېښور کي د ده د ازاد هنر وزرونه ونه غوړیدل، ځکه چي دلته هم د کابل په شان د ازاد ذوق او اند د شعر د شاهین په پرواز بندیز لګېدلی و. بیا له دې ځایه لرې «د رڼاګانو هېواد» (ډنمارک) ته لاړ او داسي اټکلېده چي نور به نه خپل سوی لوی هېواد ور په یاد وي او نه به هم د خپلي جونګړې تیلي څراغ.
د وخت په تېرېدو سره دا اټکل بیخي اوښتي ښه غوره کړه: هغه د رڼاګانو د ښار د سندرو په ګلبڼ کي د خپل ټاټوبي«د سنځل ګل شپې» هېرې نه کړې...
... همغه فرهنګي مینه او ولوله یې په زړه کي وه چي پخوا یې درلودله، خو نور یې دا اور په زړه کي نه شو ساتلی، د یوې فرهنګي مجلې (هیله) د خپرولو په تکل کي شو او دا یې هم وویل چي: ګوره هیڅ ځوان لیکوال درنه پېنوا او خفه لاړ نه شي او د هیڅ چا لیکني ته د سانسورزندی وانه چوې... تاسي د مجلې د لګښت په اړه هیڅ تشویش مه کوئ، زه شپه ورځ کار کوم، خو د مجلې لګښت برابروم...»

(بیکسیار عبدالمالک، د سنځل ګل په شپو کي، شعري ټولګه، ۱۹۹۹ م کال، د یون د مقدمي لومړی او دویم مخونه)

صفیي صدیقي هم د بیکسیار «د سنځل ګل په شپو کي» شعري ټولګي ته اوږده سریزه لیکلي ده چي زما له نظره دغه ټکي یې د بیکسیار د تخلیق په برخه کي د پام وړ دي:

ــ د بیکسیار په شعر کي دوه شعري قالبونه ډېر آسانه لیدل کیږي،

ــ د ده استعداد په ازاد شعر کي ډېر روزل شوی،

ــ د بیکسیار د شعر یوه ډېره ښه ځانګړنه، د ده د شعر کلیوالي تصویر دی،

ــ دی دوو شعري صنفونو یاني غزل او ازاد شعر کي د صلاحیت ځښتن ښکاري،

او...»

(بیکسیار عبدالمالک، د سنځل ګل په شپو کي، شعري ټولګه، ۱۹۹۹ م کال، د صفیي صدیقي د مقدمي له اتم نه تر اتلسم مخ پورې)


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکي په ځیر و لولئ

دغه راز دلته په اروپا کې هم د بیکسیار د ژوند او شاعرۍ په باب ځینو قلموالو خپل نظریات څرګند کړي دي. د ۲۰۱۳ کال د دسمبر په اومه نیټه مالمو میشتو فرهنګیانو یوه ادبي غونډه جوړه کړې وه،




د هغې غونډې په ترځ کې ځینو قلموالو د بیکسار پر ژوند او شاعرۍ باندې خبرې کړې دي چې زما له پاره د بیکسیار په باب د دوو تنو خبرې په زړه پورې وې:

۱ ــ انجنیرګلمانشاه ودیر صافی،
۲ ــ اجمل اند.

ښاغلي ګلمانشاه ودیر صافی د بیکسیار بیوګرافي په هنرمندانه ډول لیکلې وه او په ماهرانه ډول یې وړاندې کړه. ده د خپلو خبرو په ترځ کې د بیکسیار عمده فرهنګي خدمتونه داسي په نښه کړل:«...

ــ بیکسیار اته چاپ شوې شعري ټولګې لري او یوه هم د لنډو کیسو نا چاپ اثر دی،

ــ په جلا وطنی کې یې د «هیلي» مالي لګښت پر ځان ومانه او د هیلې د ادارې له خوا د یو شمیر نورو کتابونو د خپریدو سپانسور هم شو،

ــ اته کاله یې په کوپنهاګن کې د مورنی ژبې تدریس وکړ،

ــ د «آمو» په نامه جریده یې د یو شمیر نورو فرهنګیانو په مرسته وچلوله،

ــ او...»

دغه راز مطرح شاعر او ژورنالست اجمل اند د بیکسیار د شاعرۍ پر شکل او محتوی باندې اوږدې او خوندورې خبرې وکړې. د ده د خبرو د پام وړ ټکي دا دي:«

ــ د بیکسیار شاعرۍ ته څومره چې لازمه وه، هغومره پام نه دی ورته شوی،

ــ د بیکسیار شعر خپلې خبرې او خپل رنګ لري چې د خپلو ځانګړو ترکیبونو نه په استفادې سره هغه ادا کوي،

ــ د بیکسیار بل کمال دا دی چې دی په خپلو شعرونو کې خپل ځانګړی رنګ داسې کاروي چې بل څوک یې نه شي ورنه کاپي کولای،

ــ په ساده او روانه ژبه، ښکلي او شاعرانه تصویرونه وړاندې کوي،


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

ــ بیکسیار په غزلونو کې اوږده ردیفونه کاروي، چې ډیر ځلې د شعر د کمزورۍ او بیخوندۍ سبب ګرځي، خو بیکسیار دا کار ډیرځلې داسې کړی دی چې د ده شعر ته یې ښکلا او موسیقیت وربښلی دی،

ــ بیکسیار ته موږ په پښتو شعر کې د کلیوالي تصویرونو، تر ټولو ماهر شاعر ویلای شو،

ــ زه د بیکسیار په شعر کې د ده له ټولنیز ـ سیاسي نظر سره موافق نه یم، په شعر کې یې جګړې ته د هڅونې فکر هم لیدل کیږي او ډیر ځلې پړه پر بهرنیانو ور اچوي، په داسې حال کې چې موږ هم ګرم یو،

ــ د ده په شعر کې د خپل هیواد او هیوادوالو نه ورآخوا د نړیوالو ستونزو ته هم اشاره شوې ده.»

د دویمې برخې پای


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولـئ